د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحریر
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه،22ربیع الاول، ۱۴۴۶هـ | ۲۰۲۴/۰۹/25م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۶/9

مطبوعاتي اعلامیه

## د ایران منافقانه سیاست؛ له شیعه‌ګانو سره خیانت او امریکا ته خدمت

په تېرو څو ورځو کې شاوخوا ۵۰۰ مسلمانان په لبنان کې د یهودي دولت د بریدونو له امله په شهادت رسېدلي او په زرګونو نور ټپیان شوي دي. دغه بریدونه په بېلابېلو بڼو ترسره شوي دي، د بېلګې په توګه؛ د اړیکو د دستګاوو لکه، د پیجرونو او بې‌سیمونو له لارې او همدارنګه پر ښځو، نرانو او ماشومانو هوايي بریدونه شوي دي. دغو پېښو د افغانستان د مسلمانانو احساسات هم را پارولي دي.

له بده مرغه چې اوسمهال اسلامي خاورې له هغه خلیفه څخه بې برخې دي، چې د ډال په څېر د یهودو د ظلم پر وړاندې ودرېږي. له همدې امله دغو بریدونو ته غبرګون ښودل، د نورو پېښو په څېر یوازې تر لفظي غندنو پورې محدود شوي دي. په دغو غندنو کې د اسلامي خاورو حکام د اروپايي هېوادونو له حکامو سره کوم توپیر نه لري.

همدارنګه دغه حکام د ایران د دولت او په هغه پورې د اړوندو ډلو په څېر، د عامه افکارو په بېلارې کولو لګیا دي او د دغو جنایتونو پر وړاندې چوپ پاتې دي. کله چې په غزه کې وحشي جنایتونو او نسل‌وژنې د ایران حکام غبرګون ته اړ نه کړل، ښکاره ده چې په لبنان کې جنایتونه هم هغوی ته ټکان نه ورکوي. له کلونو راهیسې د ایران دولت له مسلمانانو په ځانګړې توګه له شیعه‌ګانو څخه د ملاتړ شعارونه ورکوي، خو کله چې د عمل وخت راشي، نو چوپتیا او خیانت بې بربنډېږي. په حقیقت کې د ایران دولت نه اسلامي دی او نه له شیعه‌ګانو سره همدردي لري. ایران یو دولت -ملت دی، چې په سیمه کې د امریکا د ګټو لپاره کار کوي او له شیعه‌ګانو څخه دفاع د خپلو سیاستونو د مشروعیت لپاره یوازې د شعار په توګه کاروي. دغه سیاستونه یو شمېر هغو سطحي فکره خلکو ته فرېب ورکوي، چې له سیاسي وضعیت څخه دقیق لید نه لري.

په واقعیت کې هر ملي دولت چې د اسلام شعار ورکوي، د مسلمانانو لپاره د هېڅ کار د ترسره کولو وړتیا نه لري. دغه دولتونه له کلونو راهیسې د سني او شیعه تر نامه لاندې په اسلامي امت کې تفرقه خپروي، خو نن ورځ هېڅ سني دولت د غزې د خلکو لپاره او هېڅ شیعه دولت د لبنان د خلکو لپاره اقدام ونه کړ. ځکه هر ډول اساسي اقدام د هغوی له ملي ګټو او د امریکا له غوښتنو سره په ټکر کې دی. کله چې امریکا د سوریې د انقلاب د ځپلو غوښتونکې وه، همدا د سیمې خاین حکام ډګر ته راووتل او انقلاب یې وځپاوه. همدغه ایران و چې د افغانستان او عراق په جګړه کې یې له امریکایانو سره مرسته وکړه او په ښکاره توګه پر دغه مرسته ویاړ هم کوي. بناءً کله چې د امریکا ګټو ایجابوله، ایران د شیعه‌پالنې او ملت‌پالنې په شعار سره له ځینو نیابتي ډلو ملاتړ کاوه؛ خو نن چې د امریکا سیاست او پالیسي بدله شوې، ایران هم د هغه پر اساس خپل سیاست بدل کړی دی. دغه واقعیت څرګندوي چې دا دولتونه یوازې د خپلو ملي ګټو او د بهرنیو قدرتونو په ځانګړې توګه د امریکا د دستور له مخې عمل کوي، نه د اسلام او مسلمانانو د ګټو لپاره.

پر دغه اساس هېڅ کس او هېڅ ډله باید د دغو حکامو په ځانګړې توګه د ایران د حکامو په ملاتړ پورې هیلې ونه تړي. دغه حکام د خپلې بقا لپاره له هرې ډلې، هر قوم او مذهب سره خیانت کولو ته چمتو دي. بل خوا بیا حزب‌التحریر هغه قیادت دی، چې خپلو خلکو ته دروغ نه وايي، پر مذهبي تعصبونو ککړ نه دی او ټول مسلمانان د دویم راشده خلافت تاسیس ته را بولي. ځکه یوازې د نبوت په منهج د خلافت په تاسیس سره شونې ده چې مخلص حکام ولرو، چې د سني او شیعه په ګډون به له مسلمانانو څخه ملاتړ د خپل ایماني رسالت اساسي جز ګڼي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«إِنَّمَا الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»** (رواه البخاري وأبو داود)

***ژباړه:*** *د مسلمانانو امام (خلیفه) ډال دی، چې تر شا يې جګړه (جهاد) کېږي او د هغه په تدبير سره مسلمانان د دښمن له شر څخه خوندي کېږي.*

**د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**